،،په دي غربت کښي د احساس پاکه جزبه ګرځېږم
،،رنګ به مې زيړ يې خو زړه پاک لکه شيشه کرځوم

،،ستا دا يادونه ځوانيمرګ به پکښې هم خخ کم
،،،،زه مې په زړه کښي وقف شوی هديره ګرځَوم

،،دلته نور مه راځه د تورو سَوداګر ته وايه
،،زه اوس مکتب ته ځم قلم او کتابچه ګرځَوم

،،هغه د جنګ قائل دي زه د محبت قائل يم
،،هغه نفرت او زه د مينې فلسفه ګرځوم

،،نو راشه مړ مې که خو ډَز په ما په شا مه کوه
،،،،نادان دشمنه زه دی ډَز پسې سينه ګرځَوم

لقمانه ته د دي وطن په ننګ غزل وليکه
،،،،زه به دی هم د يا قُربان پسې ټپه ګرځَوم